**د بربادۍ پر وخت خاین چارواکي خپل خیانتونه لمانځي!**

(ژباړه)

**خبر:**

د اردن له سلطنتي مانۍ څخه د ټویټر له لارې دا غږونه اورو«اردن خپله لسمه کلیزه په خورا ویاړ سره لمانځي»(سرچینه: الجزیره، اردن)

**تبصره:**

د عثماني خلافت له سقوط څخه سل کاله وروسته د عرب او عجم توطیه جوړوونکو لخوا اردن د سایکس پیکو له مخې وویشل شو او اوس یې دغه وېشل شوې برخې ولمانځلې. دا خیانت حسین بن علي د انګلیس په لمسون د عثماني خلافت پر ضد ترسره کړ، له دې خیانت وروسته له دندې ګوښه شو، واک ترې واخیستل شو او له وطنه وشړل شو. انګلیس باید دا ډول خاینان او خاین دولتونه (اردن) رامنځته کړي وای، څو په اسلامي خاورو کې د یهوي کیان ریښې ټینګې کړي. د اردن حاکم رژیم د سولې هغه تړون ته چې له یهودو سره یې کړی و، دوام ورکړی. په دې لاره کې د هر هغه انقلاب مخنیوی کوي، چې له اسلامي عقیدې او اسلامي فرهنګ څخه سرچینه اخلي او د الله سبحانه و تعالی په لار کې د امت بچیان د قربانۍ په فکر روزي؛ هغه قرباني چې افراد، افسران او قومندانان د دین، امت او د امت برخلیک لپاره وړاندې کوي.

هغه ظلم چې خلک یې داسې پایمال کړل چې د بیا پورته کېدو وس نه لري، دا حالت ټولو وینو او ځیرکو اشخاصو ته ښکاره دی. ټولنه له دې نظام څخه خوندي نه ده، دغه نظام موږ ته غربت، لوږه او ویجاړتیا راوړې او دا نظام د یهودانو د خوښۍ لپاره د امت بچیانو ته سخته سزا ورکوي. له دولتي چارواکو پرته هېچاته پاملرنه نه کوي. دا نظام د کافر غرب پیروي کوي، چا چې پخپله دا نظام جوړ کړی.

هغه څه چې نن ورځ د اردن په خلکو او ټول اسلامي امت تېرېږي؛ یوازې یو حل لري چې د رسول الله په منهج باید د ټولو اسلامي خاورو یووالي لپاره قوي مبارزه وشي. د خلافت تر چتر لاندې یو واحد خلیفه او امیر وټاکل شي، تر شا یې د امت د دفاع لپاره جګړه وشي او د همدغه امیر تر سیوري لاندې پناه واخیستل شي. په دې ډول به د الله سبحانه و تعالی بنده ګان او اسلامي ښارونه په امن شي او د فتحو لړۍ به یو ځل بیا راوګرځي. حزب التحریر په تاسو غږ کوي چې په دې لاره کې له یو بل سره سیالي وکړئ او د امت د عزت لپاره له یو بل څخه وړاندې شئ!

د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر- اردن

لیکوال: دوکتور عبدالله ناصر

ژباړن: احمد طارق